**Halifax**
Regional Centre for Education

**Lockdown and Hold & Secure Drills Information**

Every school in HRCE practices Lockdowns and Hold & Secures as part of our emergency planning and preparedness. Staff and students are familiar with these drills, but we wish to increase your knowledge of our procedures, especially for new families to our school.

**What's the Difference Between Lockdown and Hold & Secure?**

*Lockdown* - During a practice drill, students remain silent with doors locked and lights off in their classroom.

*Hold & Secure*, the doors are locked, but class continues as usual.

We have 2 Lockdown Drills and 1 Hold and Secure drill per year.

**A. Why is a Lockdown Implemented?**

It is important to understand that school staff will implement a lockdown and call police if/and when there is any reason to believe that danger to students and staff may exist. Everyone in the school will move to a secure location, safe from harm. Police will respond to the school and no one will enter or leave, until the situation is resolved.

**What Should Parents Do If The School Is Locked Down?**

The first instinct of parents/guardians is often to phone the school or, contact your child, or to go directly to the school. <u>*You are asked not to do any of these things,*</u>

**د بندولو (Lockdown)، ساتلو (Hold) او خوندی کولو (Secure) تمریناتو په اړه مالومات**

زموږ د بیړني پلان جوړونې او چمتووالي د برخې په توګه، د هالیفکس د ښوونې سیمه‌ییز مرکز اړوند هر ښوونځی د بندولو، ساتلو او خوندی کولو تمرینات ترسره کوي. زموږ کارمندان او زده‌کوونکي له دا ډول تمریناتو سره بلد دي، خو موږ غواړو چې د خپلو کړنلارو په اړه ستاسې د پوهاوي کچه هم لوړه کړو، په ځانګړي ډول هغه نوې کورنۍ چې زموږ ښوونځي ته مراجعه کوي.

**د بندولو، ساتلو او خوندی کولو اصطلاحاتو ترمنځ توپیر څه دی؟**

بندول – د دا ډول تمرین په جریان کې زده‌کوونکي د بندو دروازو تر شا چوپ پاتې کېږي او د ټولګیو ګروپونه یې هم مړه وي.

ساتل او خوندی کول – د دا ډول تمرین په جریان کې د ټولګیو دروازې بندې وي، خو درسونه د معمول په څېر جریان لري.

موږ هر کال ۲ د بندولو او یو د ساتلو او خوندی کولو تمرینات لرو.

**الف. د بندولو چاره ولې پلي کېږي؟**

که چېرې داسې ګومان وشي چې زده‌کوونکو او کارمندانو ته خطر شتون لري، نو دا اړینه ده چې پوه شو چې د ښوونځي کارمندان به د بندولو چاره پلي کړي او پولیسو ته به زنګ ووهي. په ښوونځي کې هر شخص به یوه خوندي ځای ته لاړ شي، داسې ځای چې له خطر څخه خوندي وي. په دې صورت کې پولیس به د ښوونځي پېښې ته رسېدنه وکړي او هېڅ چا ته به د وتلو او ننوتلو اجازه ورنکړي، ترڅو چې وضعیت ښه شوی نه وي.

**که ښوونځی بند وي، نو والدین باید څه وکړي؟**

د والدینو/سرپرستانو لومړی غریزه دا ده چې له ښوونځي یا له خپل ماشوم سره ټیلیفوني اړیکه ونیسي یا هم مستقیماً ښوونځي ته لاړ شي. <u>موږ له تاسې څخه</u>

Please understand and follow the procedures outlined below:

- **Do Not Come To The School**
  Roadways need to be kept clear for responding emergency vehicles. People driving to the school can slow emergency responders from getting to and securing the area as quickly as possible. Therefore, if you hear that a lockdown is occurring at your child's school, do not go to the school.
- **You may attend to your schools' designated Parent location at ______________(insert address)__________________________ __________________________**, to receive information which will be provided by police and school representatives. These locations are selected as being far enough from the school to maximize your safety and that of others.

**How Will I Know What's Going On?**

Please trust that every effort will be made to keep you informed as to what is happening during the event. Incorrect information often circulates during an event when it does not come directly from the police or centre of education. Please note that, for safety reasons, some situations may require that some information be withheld until the situation is resolved.

In lockdown situations you may also contact the school board by calling 902-464-2000.

- **Do Not Try To Call Your Child**
  We also ask that you NOT attempt to phone your child. In a lockdown, everyone must remain quiet, and a ringing cell phone may draw undue attention to the secure location where your child and his/her classmates are.

**When/Where Will I Meet My Child?**

After the lockdown, you may be asked to go to the school or to wait where you are until your child is brought to your location

غوښتنه کیږي چې دا کارونه مه ترسره کوئ، هیله ده په لاندې یادو شویو کړنلارو ځان پوه او رعایت کړئ:

- **ښوونځي ته مه راځئ**
  بېړنیو حالاتو ته د رسېدنې موټرو پر مخ باید سړکونه له خنډونو پاک وساتل شي. ښوونځي ته د خلکو راتګ کولای شي چې بېړنیو حالاتو ته د رسېدنې ټیم کار، چې ژر تر ژره سیمې ته ننوتل او د سیمې خوندي کول دي، ځوکه کړي. په همدې اساس، که چېرې تاسې واورئ چې ستاسې د ماشومانو په ښوونځي کې د ښوونځي بندېدلو چاره پیښېدونکې ده، نو ښوونځي ته مه ورځئ.
- **تاسې کولای شئ چې په ښوونځي کې والدینو ته ځانګړي شوي ځای ته ______ (پته ولیکئ) __________________________ ______________ ځان ورسوئ،**
  ترڅو هغه مالومات چې د پولیسو او د ښوونځي د استازو له لورې خپرېږي، ترلاسه کړئ. دغه ځانګړي شوي ځایونه له ښوونځي څخه خورا زیات لرې ټاکل کېږي، ترڅو ستاسې او د نورو د خوندیتوب کچه لوړه کړي.

**څنګه پوه شم چې څه روان دي؟**

هیله ده باور ولرئ چې تاسې ته د مالوماتو رسونې په برخه کې به له هېڅ ډول هڅې سپما وی ونشي، ترڅو پوه شئ چې څه روان دي. د یوې پېښې په جریان کې کله چې مالومات د پولیسو یا د ښوونې له مرکز څخه مستقیماً خپاره نه شي، نو تل ناسم مالومات د خلکو په منځ کې خپرېږي. هیله ده په یاد ولرئ، د خوندیتوب لپاره، ځیني حالات دې ته اړتیا لري ترڅو چې وضعیت ښه شوی نه وي، مالومات ساتل کېږي.

د ښوونځي د بندېدلو پر وخت، تاسې کولای شئ د ښوونځي له بورډ سره په 902-464-2000 ټېلیفون شمېرې اړیکه ونیسئ.

- **هڅه مه کوئ چې خپل ماشوم ته زنګ ووهئ**
  موږ له تاسې دا هم غواړو چې خپل ماشوم ته زنګ مه وهئ. په بند حالت کې هر شخص باید چوپ وي او د ګرځنده ټېلیفون زنګ کولای شي هغه خوندي ځای ته

**B. Why is a Hold & Secure Implemented?**

Aside from lockdown procedures, your child's school may also implement a precautionary "Hold & Secure" if there is an unrelated emergency situation occurring outside the building or in the neighborhood that could potentially present a danger to the school.

**What Should Parents Do If the School Implements Hold & Secure**

In this situation all doors to the school are locked and monitored to prevent any person from outside entry into the school. Classes will generally continue but no one will be allowed to enter or leave the building until the situation is resolved. We also ask that you **do NOT go to the school unless asked to do so by school board staff**.

We encourage you to discuss school safety with your child and to address any concerns they may have. We welcome any questions you have about this or any other issue related to the safety and security of our school.

چېرې چې ستاسي ماشوم او نور ټولګیوال یې دي، غیرضروریې پام جلب کړي.

**کله/چېرې زه خپل ماشوم لیدلی شم؟**

د بند حالت ختمه وروسته ښایي له تاسي وغوښتل شي چې ښوونځي ته دننه شئ یا هم په خپل ځای کې منتظر پاتي شئ، ترڅو ستاسي موقعیت ته ستاسي ماشوم راوړل شي.

**ب. د ساتني او خوندیتوب حالت ولې پلي کیږي؟**

د بند حالت کړنلارې سربېره، ستاسي د ماشوم ښوونځی ښايي د احتیاط له مخې د ساتني او خوندیتوب کړنلارې هم پلي کړي. دا به په داسي حال کې پلي کیږي که چېرې د ښوونځي له ودانۍ بهر یا په ګاونډ کې له وړاندويني پرته بېړنی وضعیت رامنځته شي چې ښايي ښوونځي ته خطر پېښ کړي.

**که چېرې ښوونځی د ساتني او خوندیتوب کړنلارې پلي کوي، نو والدین باید څه وکړي؟**

په دغه حالت کې د ښوونځي ټولې دروازې بندېږي او چا ته اجازه نه ورکول کېږي چې له بهر څخه ښوونځي ته دننه شي. درسونه به په عمومي ډول ادامه مومي، خو چا ته به د ښوونځي ودانۍ ته د ننوتلو او وتلو اجازه نه ورکول کېږي، مګر دا چې وضعیت عادي حالت ته وګرځي. موږ بیا هم له تاسي غواړو، چې په داسي حالت کې **ښوونځي ته د تګ هڅه مه کوئ، مګر دا چې د ښوونځي د بورډ کارمندان له تاسي وغواړي.**

موږ تاسي هڅوو چې له خپل ماشوم سره د ښوونځي خوندیتوب په اړه وغږېږئ او هره اندېښنه چې دوی لري، ورته رسېدنه وکړئ. که چېرې تاسي د دغې یا زموږ د ښوونځي د خوندیتوب او امنیت بلې اړوندې موضوع په اړه پوښتني لرئ، نو موږ حاضر یو چې په ورین تندي ځواب ورکړو.